# وسله والو ترهګرو په فراه کې د نجونو ۲ ښوونځي ويجاړ کړي

د فراه ولايت چارواکي او ولسي استازي وايي چې نامعلومو وسله والو د دغه ولايت د مرکز په لمنو کې د نجونو دوه ښوونځي ويجاړ کړل. د فراه د ولايتي شورا رييس شاه محمود نعيمي رسنيو ته وويل: د نجونو يوه ليسه د دوشنبې په شپه د مرکز فراه په لمنه کې په بمونو والوزول شوه. نعيمي وايي چې د دې ليسې مديري ته مخکې تر مخکې خبرداری ورکړای شوی و. د فراه د ولايتي شورا يو غړي دادالله قانع وويل چې ويجاړه شوې ليسه د ولايت له مرکزه نږدې ۲۰ کيلومتره لرې وه. تر دې يوه شپه وړاندې د فراه ولايت د مرکز په لمنه کې د نجونو يو بل ښوونځی د نامعلومو وسله والو له لورې ويجاړ شوی و. د فراه ولايتي چارواکي او د سيمې اوسېدونکي باور لري چې دواړه ښوونځي طالبانو ويجاړ کړي دي، خو طالبانو د دغو حملو مسووليت په غاړه نه دی اخيستی. طالبانو په تيرو کلونو کې يو شمېره ښوونځي ويجاړ کړي، خو په وروستيو څو کلونو کې يې د ښوونځيو د ويجاړولو مسووليت په غاړه نه اخلي او حتی تر لوی يو ۷ مخ

# ...ي د سېلابونو د زيانونو د مخنيوي لارښوونې وکړي

**...ستيو سېلابونو په اړه وويل د ټولو حلقو غوښتنه ده چې د کابل سيند حريم بايد مشخص او له غاصبينو واخيستل شي**

**...ې پلان ته اړتيا ده او ټولې اړوندې ادارې دې په همغږۍ- پر دغه پلان کار وکړي، چې په شپږو مياشتو کې د کابل په سيند کې محسوس تغيير رامنځته شي**

...ستن د اړه غونډه ورم ماښام په ارګ کې جوړه هغوی سره د حکومت د تعدي او

Ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**